نن مې بیا په پښوتللی دهجران دلاړې خاردی
راشه ګوره شریفې ته راشه نن یې نندار کړه
چې په غاړه یې راوړی داشنا د غمو هاردی

## جانان پيژنم

شاه محمود کړوال

زه یم افغان افغانستان پیژنم
حب الوطن من الایمان پیژنم
وطن ته ځکه محبوبه وایمه
چې مسلمان یمه قران پیژنم
زما زړګی په بل چا نه غولیږي
په ډېرو خلکو کې جانان پیژنم
د ملالی توره مې هیره نه ده
هم مې تورزن لوی احمد خان پیژنم
د چاپه سپینو جامو نه تیروځم
زه مسلمان او هم شیطان پیژنم
رقیب خو تل غدار خادم ګڼلی
زه غداران او خادمان پیژنم
مراندې دعقل مې لاستې نه دي
کړواله ځکه هم اسمان پیژنم



## اقوال زرین

❖ محمد ناظم عظیمی

❖ حق و باطل به بزرگی مردان شناخته نمیشوند، حق را بشناس تا اهلش را بشناسی باطل را درک نما تا اهلش را درک کرده باشی

❖ به گویند نگاه نکن به آنچه گفته است بیاندیش.

❖ در جائیکه دیگران بلند پروازی میکنند تو تواضع کن.

❖ در جائیکه دیگران پرگویی میکنند تو خاموش باش.

❖ در جائیکه دیگران بارنج وغم دست و پنجه نرم میکنند تو درس عبرت بگیر.

❖ درجائیکه مردم میدانند، عمل نمیکنند تو عمل کن

❖ در جائیکه دیگران احساساتی اند تو خون سردی خویش را حفظ کن

❖ در جائیکه دیگران بخیل اند تو آنجا سخی باش.

❖ در جائیکه احترام نیست توبدیگران احترام کن.

❖ در جائیکه دروغ ها و دروغگوها اند تو راست بگو و نیکو کار باش.

❖ در جائیکه بدی میکنند و مردمان بدکار اند تو نیکی کن.

❖ در جائیکه دیگران بیوفا اند تو باوفا باش.

❖ درجائیکه مهمان را خوش ندارند تو مهمان نواز باش

❖ در جائیکه دنیا می خواهند تو آخرت بجوی.

❖ در جائیکه رهبر نیست تو رهبر(خدمت گار حقیقی) باش.

❖ در جائیکه ظالمان و ستم گران اند تو مهربان باش

❖ در جائیکه نفرت است تو محبت بافشان.

❖ در جائیکه تغبلان اند تو فعال وعیار باش

❖ در جائیکه بزدلان اند تو دلیر و شجاع باش.

...س کال ۱۳۸۱ هجري شمسي
...وند: انجينر شفيق الله (شايق) موبايل: ۰۷۰۶۰۰۰۵۲۸ ۰۷۰۶۰۰۰۵۲۸
سيد ميران (روشن) ۰۷۰۶۰۰۰۵۲۹
...زان: سميع الله (بشرى)
...تر ظر لاندې ۰۷۰۶۰۰۰۵۳۰ ۰۷۰۶۰۲۹۲۹
...واتو څلور لارې، د شايق کمپلکس اداره

## ...مقالې پر ځای

## ...او استاد پوهاند رشاد د ننګرهار د پښتون ...خوا په خورا درناوي سره ولمانځل شو

...ش کال د جدی د مياشتې په ۲۹ نيټه د ننګرهار ولايت ...ښار کې د افغانستان او سيمې لوی عالم ، محقق ، ...ژبپوه او تاريخ پوه استاد اکاديميسين پوهاند ...ر رشاد په علمی او ادبی کړنو د قبايلو په رياست کې ...سيمنار جوړ شوی و . په دغه ارزښتناک سيمنار کې چې ...اد پوهاند رشاد صاحب هم ګډون درلود ، د کوزی ...صوبه سرحد وتلی او نوميالی شاعر ، ليکوال او ادب ...ور پوهنتون مشر ډاکتر راج ولی شاه (خټک) ، د هيواد ...ـهور شاعر او ليکوال محمد صديق (پسرلی) ...لم او متفکر ذهن خاوند او شاعر استاد محمد آصف ...ورو ګڼ شمير شاعرانو او ليکوالو په کښې برخه ...ه . دا يو ورځنی سيمنار چې د ختيځو ولاياتو د آزادو ...و د ټولنی په نوبت جوړ شوی و له دې امله د ننګرهار ...ی ادارو ، ټولنيزو سازمانونو او د مختلفو ټولنو د ...ځانګړی پيغامونه ولوستل شول . او د هيواد د دغه ...شخصيت په اړه يې خپلې نيکې هيلې او پيرزويني ... د شايق جريده په دې اصل وياړي چې افغانستان ...ی عالم ، څيړونکی شاعر او ژبپوه او تاريخ پوه استاد ...وهاند رشاد صاحب په اړه د څو ټکو يادونه کوي.

...د پوهاند عبدالشکور رشاد د عبدالغفورخان زوی د ...د اياز خان نمسی ، د محمد جان خان کړوسی د نيک ...وسي او د لکي صاحب خان کودې په ختيه بابړ د پښتو ...وتلی ليکوال او نازک خيال متين شاعر دی . دی په ...کال د قند.هار د ښار د بابړو د کوڅې په يوه بډايه ...يږيدلی دی . او په ۱۳۱۲ هجري کال له ابتدائي ...ريالی شو نور علمی تحصيلات يې په خصوصي ... د هيواد مبتکر او نوميالی شاعر او ليکوال مرحوم ...ينوا چې يو وخت د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور ...خپل په زړه پورې تاريخی اثر او سنی ليکوال په ...ې د پوهاند عبدالشکور رشاد په اړه داسې ليکي:
[illegible]

## دژبو ستونزه

شاه محمود "کډوال"

دا خو زموږ ټولو هيوادوالو ته څرګنده ده چې د هيواد په تيرو جوړشوو اساسي قوانينو کې د هيواد دوه سترو ژبو پښتو او درې ته د ملي او رسمي کليمې د کاغذ پر مخ ليکل شوي دي ولې د عمل په ډګر کې دا کليمې ندي څرګندې شوي او پدې ډول رسمي ژبې د ملي ژبې ځای نيولی او د اکثريت ژبه چې ملی ژبه ورته وايو له رسمی نه هم لاندې لويدلې ده . دژبو ستونزه زموږ په هيواد کې څرګنده او ښکاره ده او پټيدلې نشي داچې دا ستونزې چا رامنځته کړي دا هم څرګنده ده او دا د هغه حکومتونو کار دی چې يوازې د کاغذ پرمخ يې ژبې ته د ملی او رسمی کلمی ليکلی مګر وړ پاملرنه يې ورته نه ده کړې خپل کارکوونکي يې په دې نه دي مجبور کړی چې ملی او رسمی ژبې بايد زده کړي او ليک لوست پرې وکړی . که چيرته زموږ د ننګرهار ولايت د مومندرې ولسوالی د يو ښوونځي زده کوونکي چې ټولې زده کړې يې په پښتو کړې وي او د درې مضمون يې د يوه ، کمزوری مضمون په توګه له يوه کمزوری ښوونکي لوستی وي کله چې دلوړو زده کړو لپاره کابل پوهنتون ته ورو پيژندل شي نو داچې په کابل پوهنتون کې لوست په درې ژبه کيږی له ده . سره دا ستونزه نه وي چې زه به خپل اړوند پوهنځی څنګه لولم بلکې له ده . سره دا ستونزه وي چې زه به په درې ژبه کې څنګه لوست کوم او څه پوهيږم چې ما ته زما درې ژبې استاد څه وايي . په همدې ډول که چيرته يو زده کوونکي د بدخشان په ولايت کې خپلې ثانوی زده کړې پای ته رسولي او بيا دلوړو زده کړو لپاره ننګرهار پوهنتون ته راپيژندل کيږی نو هغه هم د ورته ستونزې سره مخ وي او دا ځکه چې هغه به درې ژبه زده کړې کړی وي او د پښتو مضمون يې د يوه کمزوری مضمون په توګه له يو کمزوری ښوونکي نه لوستی وي او چې د ننګرهار پوهنتون ته بريالی شی نو په پښتو لوست ورته ستونزمن او ناشونی وي .

دا چې زموږ په نوی اساسي قانون کې پښتو او درې د هيواد رسمي ژبې نومول شوي دي نو هيله ده چې وړ پاملرنه ورته وشي داسې پاملرنه چې دغه پورته ستونزې چې ما ترې يادونه وکړه حل شي.

## دتجربوي منځني ښوونځي سره د P.R.T مالی مرسته

ازموينه پيل شوی او د ښوونی او روزنی چارې په بری سره پر مخ ځي او د زده کوونکو تعليمی سويه د پخوا په نسبت ښه ده . پورتنی مطلب د تجربوی منځنې ښوونځی آمر سيد عيسی پاچا د شايق جريدې د خبريال سره د خبرو په ترڅ کې څرګند کړ .
نوموړی د يوې پښتونې په ځواب کې وويل د تجربوی منځنی ...
[illegible]

## څه وينو ؟

۱ ـ وينو چې په ښار کې د بريښنا د نه موجوديت په ... شوي او ځای ځای غلا ګانی او د غلا واقيعات راپيدا ...
۱ ـ اورو چې په درونټه کې د دوو توربينونو د غير ... دريم توربين هم لاس وهنه پيل شوی که خير وي دا يه ... کاره وغورځيږی او په دی توګه به يې جلال آباد ... خلاص شي .
۲ ـ وينو چې د کراچيو سيل او د کباړيانو مارکيټ د ... وړو منډوي د سړک په نس ودريد او ښه په درز يې کار ...
۲ ـ اورو چې د کوچې پلازا شمال او ختيځ ته دوه لوی ... کې دي که دغه مارکيټونه جوړ شي نو دوي لا د مخه د ...
۳ ـ وينو چې داختر د مبارکو ورځو د راتګ نه د مخه ... غواړي د خوراکي شيانو نرخونه وخيژوي .
۳ ـ اورو چې د ښاروالی مسئولينو او د امنيت موظ ... داختر ميوه ګی ترلاسه کړی ده .
۴ ـ وينو چې د معاشاتو په اجرا ، کې بيا هم څنډ ... او مامورين له دی امله شکايات لري .
۴ ـ اورو چې داختر نه وروسته د کال په آخره کې به ت ... منظور شي او که خير وی بيا به معاشونه اجرا شي .
۵ ـ وينو چې د کوپون لپاره د ۱۳۸۲ هش کال له پيل ... نکړل .
۵ ـ اورو چې راتلونکې نوې کال ته به ډبل کوپونونه ... يې دری درجنه اورلګيت واخستيل شي .
۶ ـ وينو چې د کوچې پلازا ترڅنګ داوړو منډوی په ... تړلی شوی دی .
۶ ـ اورو چې که د ښار نور لوی او واړه سرکونه د ... دهلو ځلو په نتيجه کې د خرکاډو لاسی کراچيو سيار ... نو دې ځای ته به يې هم پام شي.

## دحسين زاده په نوم دکرکټ تور...

دتيری جمعې په ورځ چې ۱۱۹ ، ۱۳۸۲/۱۱ ... العمارت په سپورټي ډګر باندی د ورزشی آمريت ... فدراسيون ترڅارنی لاندی د (۱۶) لوبډلو لګه ... نيوستار او داسی نورو ترمنځ دپټې په پريکولو ... د کرکټ تورنمينټ پداسی حال کې پيل شو چې ... ښاغلی سيد عالم شاه (جان) لخوا ورزشکارانو ... لارښووني وشوي او بيا ښاغلی جان صاحب ... قاری هدايت الله (حسين زاده) لخوا د تورنمينټ ... .ورپسی دنيو ستار او حسين زاده لوبډلو ترمنځ ... دنيوستار لوبډلی په (۱۴) اورونو کې دټولو لوبغا... منډې جوړې کړې چې په مقابل کې دحسين زاده ... (۴) لوبغاړو په سوځيدو سره نوموړې لوبه پوره کړ...
[illegible]

شاه محمود کډوال

## خپلواکي

بېګا مې خوب کې لیدل
یو څو ځوانان د کلي
چې و غزا ته تللي
له یرغلګرو سره
دوی جنګېدلي ووډېر
توري یې سرې ښکارېدې
ډالونه ټپ خوړلي
خو ګرد وهلو څېرو
ډېره خوښي ښودله
شونډې مسکۍ مسکۍ وې
چې ننګیالو غازیانو
له دښمن وړی میدان
دا توریالي ځوانان چې
د کلي لور ته راغي
د کلي پېغلې ورته
د سرو ګلونو ګېډۍ
او د ستاینو ګېډۍ
په خپلو سپینو لاسو
د دوی په مخ کې نیسي
ډډول اوازپورته شي
ځوانان اتڼ اچوي
غازیان سندرې وایي
د خوشالۍ سندرې
د خپلواکۍ سندرې

نصرت الله سیلاب

## غزل

د زړه بدل کې سپینه خوله غواړم
ښکلیه پر تا مې دا کسات پاتې دی
هسې خو غلي غلي نه راګوري
ښکلي کې لا بلا پسات پاتې دی
د شاعر یار شرطونه، نه دي پوره
لا یې وړوکی التفات پاتې دی
ملاد شونډو شرابي شو خلکه
اوس مېخانې ته ځي جومات پاتې دی
څنګه بنه ناست دی د اختر په تمه
اختر لا لرې دی برات پاتې دی
ښکلا مې ټوله له زړګي وپستلې
لا یکې یو ښکلي میرات پاتې دی
سیلاب هغې پسې راغلی ښکاري
په ما یې د سرو شونډو زکات پاتې دی.

غفار خان دانش

## د وطن غلیم ته

مینه د وینې نه جوړېږي وینه مه سوزوه
زما د خوار ولس دا خواره مینه مه سوزوه
ستا به دا یو ماښامی تود شي په لمبو کې زما
زما د ژوند هره لحظه رنګینه مه سوزوه
زما د سر وینېته په کې دي د مودو راهیسې
زما د خوار غریب د وخت قالینه مه سوزوه
ستا د قدم سره تیارې راځي نو څله راځې
د خوار ولس یوه لحظه حسینه مه سوزوه
دانشه داسې سپینې ولیکه چې تورلمبه شي
سپینه د سپین زړه پیدا کېږي سپینه مه سوزوه.

تر انسانانو مخه
دمخه د مصنوعی
والوت. په دې کې
مي جوړول د نوی او
مخی ډیره لویه او د
دې کامیابی څخه د
صلح او د پوهنی د
مګر ګرانه ملګریه!
ومره مصنوعی شیان
ضرورت نشته یوه
وعی دنیا لرو خو ورته
وایم، که غواړی زما
ته ووایم که قانع نشوی
لری به نه خوتر ټولو
چې تاته په څومره تصنع
نه خپه کېږی دا ته چې د
د خبرو تصدیق کوی دا
ته په مصنوعی خندا کې
اه کینو، په مصنوعی ژړا
نه یې ژاړو په مصنوعی
سر تیټوو په مصنوعی
ت، په مصنوعی قهر، په
مره اوچت یو چې مصنوعی
تی مونږ مصنوعی
ف هم لرو. تر ما او تا چې تیر
نیا کې نور ملګری هم ژوند
لاس لری. که یې نه منی سړك
وعی تنك او دخینو سپین
ك کړی وینبتان وګوره او له
هلته بـه مصنوعی غوږی،
عی کرت، مصنوعی ترازو،
خونه ډیر ووینی که په دې هم
و میدان ته ولاړ شه چې هلته
شاهدان، مصنوعی سندونه او
صنعت باله شی، که دې په دې
داری ته ځان ورسوه چې له نرو
او د میرمنو په صحـــنه
مصنوعی نر جوړوی له دې ټولو
روستی قناعت دپاره باختر
ـر دننه کړه چې هلته بـه دومره
ی مقالی، مصنوعی دیالوګونه
مصنوعی ترانی، مصنوعی
مونونه واوری چې بالکل بـه
ه او ته خورا لویه (مصنوعی دنیا)

---

کیدای شـي د یوه عصر ... خو مکتب د
کړی. د میتود لمن ډیره پراخه ده چې ډیری‌و سره سمون خوری،
هغی دیوه پارکي مثال لري. یوه مکتب ته د منسوبو آثارو تر منځه د موضوع
، ایډیا او تمثیل په طرز کې دومره نژدیوالی وي چې ډیر خله لوستونکی په
یوه اثر دبل د بشپړونکی ګومان کوي. په یوه مکتب کې د پیری د کانفلیکټ
( Conflict )درك او هغه ته دحل لاره تقریباً سره یو شان وي. مثلاً د افغانی
ټولنی یوتیپیك کانفلیکټ دا دی چې پیغله خپل اختیار نه لری، چې د ژوند
ملګری خوښ کړی. د پلار، پلندر، مشر ورور، تره یا بـل له خوا یوه بـډای
بـوډا ته چې ډیری پیسـی لری، د زیاتو پیسـو په بـدل کې ورکول کیږی. د
پیغلی مینه د یوه بل زلمی سره چې نسبتاً بیوزلی خو با اخلاقه او د دې ور دی
، مینه لری. د دغه پرابلم د حل لاره هم غالباً سره ورته ښکاری. دادب د ځینو
تیوریسانو په نظر زده کړه او مطالعه د یوه لیکوال د آثارو سره لوستونکې په
ژور ډول اشنا کوی. لوستونکی هغه وخت پوهیږی چې دیوه مکتب پیروان د
یوه ډول موضوع په انتخاب، د یوه تیپ په ترسیم او کانفلیکټ ته په شبیهه
خواب ورکولو کې ولی سـره دومره نژدی، دي له دغه ځایه د یوه اولس د
ادبـیاتو په تاریخ کې د مکتبـونو مطالعه لوړ مقـام لری. دادب د ځینو
تیوریسنانو په نظر ادبی او هنري مکتب سره کوم ثابت سرحد نه لری: ډیر ځله
کیدای شي د یوه عصر دیوې ټاکلی دوری په میتود ددوي د تعریف سره سم د
ادبی مکتب اطلاق وشـي، خو داسی تعریف چې مکتب د میتود په نسبت
عام وښیی، تر اوسه زمونږ له نظره نه دې تیر شوی.

---

# غزل

ش. م "کډوال"

هر څوکه بـــــد رنګ وي خو هر چا ته دي خپل تن ښکلی
تاتــــه خپل وطــن ښکلــي او ما تــــه خپل وطــن ښکلـــی
دغه شـــــــارې دښتې او میرې بـــــــه پرې ور نه کړمه
هــر څوکــه تــه وایــې چې لــه ټولــو دي لنــدن ښکلـــی
مونږ د خپل وطن هره دره کې یو کشـــــــــمیر وینو
هر څه دلته ښکلي دلته بـــــــــــــوي دلته دیدن ښکلی
دا وطـــن مـــو مـــور ده د پښو لانـــدې یـــې جنـــت دی
تل بــــه یې خدمت کړو چې مو تیر شـــــي ځنکدن ښکلی
وګوره (کډوال) هم د خوشحـــــــال په لاره ســــــم ورځي
نور یې جامې لرې کړې اغوســـــــــــتي یې کفن ښکلی

# وطن

پوه نه یم چې د چا په اشارو وسوځیدي
ای ګرانه وطنه، په لمبو وسوځیدې

په چل او په فریب باندی تا لا کړلی دښمن
په چل او په فریب باندی تالا کړلی دښمن

رښتینی پتنګان درنه په کومو لمبو وسوځیدی
دشمعی غوندی ته په ژړیدو وسوځیدی

دا ستا د زړه دپاسه رنګارنګ رقصونه وشو
د کوم رقاص په رقص او په نخرو وسوځیدې

لږ خیر شه ورته ګوره ستا لیلا باندی څه وشو
سراج لکه مجنون ته په میرو وسوځیدې

سراج الدین "بهسودوال"

---

های جهان ... از خدا شفا نمی
امیخته است، عشق از آن بیماریهاست که بیمار آن هرگز از خدا شفا نمی
خواهد، عشـق بـلائی اسـت که دلهای روشـن و جان های پاك آرزومند
سردچار شدن بآن هستند، عشق من کیست که از زندګانی شیتر است
این است عشق! این است عشق، ای امیرمومنان! عشق چنین چیز یست
ما مون تبسم کرد و ګفت: آفرین بر تو ای شمامه آفرین بـر تو که در وصف
عشق داد سخن دادی آفرین!

# افسانه

افسانه وم اسانه شوم اسانه به شمه پاتی
څو دردمنو زخمی زړو ته پیمانه به شمه پاتی

دې نه مخکې زه اشنا داسی نه وم پریشانه
ستاسې دا چې زړه ته راغله د پوازې به شمه پاتی

زما زړه کې د ستا مینه ستا په مینه زه تشه یم
اشنا ته خما نه شوی هسی تشه میخانه به شمه پاتی

بس په تا می زړه آباد دی هم خاد دی هم برباد دی
زړه مې وایې اوس یو ښکلی تاج محل یم که ته لاړې

# زما آرزو

داکتر میرجمال جمال "کامه وال"

زه به خپل ټول امیدونه کړم بیان
د نړۍ ټول انسانانو ته عیان

زحمتونه افغانانو ډیر ګاللی
هوساینه چې پکار ده دافغان

له حریت او امنیت ډك وطن غواړو
خوشبختی می د وطن ده لوی ارمان

مدنیت لویه ارزو می د ټولنی
دجمله سکتورو جوړ افغانستان

چې پراخه پروژی د کار وړتیا وی
تورتم ختم ټول وطن به شي روښان

دقومی ژبنی ټول واك اختلافونه
سراسر سولی نه ډك غواړو اسان

بی توپیره ښه عدلی سیستم برپا شې
هم تامین شي آزادی پدی مکان

اعتماد او اعتقاد او ورور ګلوی وي
ښه خدمت او حمایت او ښه پرسان

ښه اردو د سولی غواړو دې وطن کې
سلاح ټوله شې ښکاره وی که پنهان

آموزش او پرورش وی معمول شوی
مرسته ودی کړی زمونږ سره جهان

بی کاری پدی وطن لوی بدبختی ده
لدی رنجه دي راوځی لوی انسان

دتخنیك او صنعت انکشاف غواړو
زراعت دی نمونه شې په بیابان

صحت لویه سرمایه ده په نړۍ کې
توجه دې په روغتیا شې په ښه شان

د عمل ضرورت زیاد بوله جماله
بقایا دی پلانونه لوی نشان

Shaiq u...

شایق جریده

# گلستان "غالب"

# و ادبي ڼالې

کتابونه دریابونه دي

## ويره

د شاه محمود "کهوال" ليکنه

ويره هغه څه دي چې ښې او بـدې خواوې دواړه لري يانې ويره هم ښه وي او هم بـده ، ښه يې داسې ده لکه يو انسان چې ديو بد او ناوړه عمل له بدو پايلونه ويره کوي او نه غواړي چې داسې عمل وکړي چې بـده پايله ولري چې دا ډول ويره ښه ده کومه چې ټولنه د پرمختګ په لارو روانوي او د بـدو اعمالو مخنيوى کيږي. بـده ويره داسې ده چې يو انسان يو ناوړه عمل په سترګو ګوري او د هغه په بـاره کې اوري ولې ويره د هغه په خوله مهر لګوي او نه پريږي رښتيا وينا وکړي او حـق ووايې دا ډول ويره چې بـده يې بـولو د ټولنې د پرمختـګ دلارې خنډ ګرځي او نـه پريـږي چې ټولنـه پرمختګ وکړي کله چې دا ويره د يو انسـان په فکر کې ځای ونيســي که د هغه د سترګو په وړاندې هر څومره ظلمونه او تيرې کيږي هغه د دغو ناوړو عملونو په وړاندې څه نه کوي او نه څخه وايې ، چې دا ډول ويره زمونږ په افغاني ټولنه کې ډير خاوندان لري. ويرې زمونږ په افغاني ټولنه کې هغه وخت ځای پيدا کړ او پرمختګ يې وکړ د کله نه چې په هيواد کې انقلابونه پيل شول او حـكومتونه بـه د ټوپك او كوتك په زور جوړيدل نو كه چا بـه د حكومت او چارواكو د ظلم په وړاندې ودريدنه كوله هغه سړي به د پټو حكومتي ادارو له خوا په پټه نيول كيده، ربړيده او وژل كيده ، همدا لامل وو چې د ربـړيدلو او وژلو له ويرې ډير خلك له رښتيا ويلو نه ګونګيان شـــول . دا ويره اوس هم زمونږ په خلكو كې موجوده ده ، خلك دوهلو ، ټكولو او وژل كيدو لـه ويرې رښتيا نه وايې ځكه اوس هم په هيواد كې ټوپك او كوتك واكمن دي . كه چا د كوم حكومتي چارواكې پر ضد كومه خبره وكړه دوهلو ، ربړولو او وژلو سره مخ كيږي ځكه نو ويره اوس هم په چټكې سره زمونږ په فكرونو كې پرمختګ كوي او نه پريږدي چې رښتيا ووايو . خداى (ج) دې موږ ته د محـــمد (ص) پدې وينا د عمل كولو وړتيا راكړي چې وايي (د ظالم په مخكې وينا كول ستر جهاد دي) . تر څو ويره

[illegible]

## ديني معلومات او غوره وينا وي

[...] هيواد د نوميالى ژورنالســت ليکوال او شــاعر د ختيځو ولايتونو [...] الستانو د اتحادى رئيس اسد الله حصار شاهي وال ووم کتاب دى [...] په ښکلې کچه او صحـافت د زړو ټکو په تيراژ په ۹۷ مخونو کې چاپ [...] وتې دى د کتاب په وروستې پوښتې د حصار شـاهي وال تصوير او [...] ک يې د چاپو شـويو او ناچاپو كتابـونو بـيان راغلى دى. پر کتاب [...] کرهار د محـاكمو رئيس مولوى صديق الله "حقيق" ، مولوى فضل الله [...] کيمى او مولوى ضيا الله حكيمى ليكني كړي او سريزه يې نورزا خان [...] دين كنبلى ده بـايد ووايو چې تر دې د مخه حصارشـاهي وال شپږ نور [...] ـونه (لوى ننګرهار ، د ادبـى مرغلرو اميل، غوره ويناوي او متلونه [...] قى تقالې ، دلوى ننګرهار شاعران او بالاحصارونه او منارونه) چاپ [...] ي دي او ۷ كتابونه يې نور هم چاپ ته تيار كړيدي موږ په داسې حال [...] چې داسد الله حـصار شـاهي وال د دعه ادبـى او دينى كتاب د چاپ له [...] هغه ته د زړه له كومې مبــاركې وړاندې كوو دوي ته د خداى (ج) له [...] ـار څخه د لازياتو بريـاليتوبـونو هيله كوو. په قـلم دې بـركت شـې او [...] ند په ټولو برخو كې دې بريالى او سرلوړي وي . په درنښت روشـن



## لنډۍ

[...] ته ځکه خوشحاليږم

چې مسافر لالې مې کلي ته راځينه

اختر دې مبارك شه

[...] دې مبارك شه سلامونه در ليږم

ګيډي ګيډي د مينې پيغامونه در ليږم

[...] او د ناوخته له احوال دې خبرومه

هفته كې درې څلور درته ليكونه در ليږم

[...] زما يادګار دى له ځان سره يې ساته

د خط په ملګرتيا خپل يادګارونه در ليږم

[...] او خيال مې ته يې چې كله را په زړه شي

د مينې له [...] درليږم

[illegible]

# انجوګانې او زموږ ملي ګټې

توریالی غورځنګ

زموږ هېواد د خلکو ژوند ته د ورپېښو ګواښونو څخه یو هم انجویزم دی. انجو د هغو بهرنیو او کورنیو غلو ټولګه ده چې د نورو ګواښونو ترڅنګ یې زموږ مذهب ، کلتور او ژبو ته ستر ګواښ ور پېښ کړی ، د همدې انجوګانو دفترونه د فحاشۍ ستر مرکزونه دي چې زیاتره نارینه او ښځینه کارکوونکي یې په اخلاقي فساد ککړ دي . ددې ترڅنګ د پردیو اونورو دینونو خپراوی هم د همدې انجوګانو له لارې تر سره کېږي چې دا خبره د هیڅ هېوادوال نه پټه نه ده .بله خبره چې د یادولو وړ ده هغه داده چې دا انجوګانې چې د کوم هېواد نه بودیجه اخلي بیا خپلې ټولې چارې د هغه هېواد د قانون او غوښتنو سره سم برابر وي او دکور به هېواد د ځان اړ نه بولي ، د نا اهله ګمارل ددوی د قانو ن لوموړی په وسیله خپلې ناروا غوښتنې د انجوګانو یو بل چار زموږ د ښکاره ددې چار ننداره کوو .



هیڅ قانون منلو ته اشخاصو په کار ماده ده تر څو ددوی تر سره کړي.

غوارې پدغه انجوګانو کې اړینه ده چې د انګلیسي ژبه ژبو وژل دي چې کله چې یو څوک دنده ترلاسه کړي نو زده ولري که نه نو دنده ورته نشته که څه هم هغه په کوم مسلک کې دوکتورا ولري . موږ ګورو چې په انجوګانو او زیاتره موسسو کې داسې کارکوونکي کار کوي چې په هیڅ مسلک پورې تړلي نه وي خو د انګلیسي ژبې د یادولو له امله په لوړ پوست کې ګمارل کېږي چې د همدې ښکېلاکي پروژې په لړ کې زموږ زیات هېوادوال د زیاتو تنخواه ګانو د تر لاسه کولو لپاره انګلیسي ژبه زده کوي تر څو انجو کې دنده تر لاسه کړي ، د حیرانتیا خبره خو لاداده چې د ښوونځي د زده کوونکو او محصلینو سربېره بې سواده اشخاص چې غوارې په دغو انجوګانو او موسسو کې د چلوونکي ، ساتونکي ،.او پخوونکي په توګه دنده ترلاسه کړي هم په انګلیسي ژبه پسې لګیدلي دي ځکه لکه څرنګه چې ما مخکې یادونه وکړه انګلیسي ژبه زده کول لومړی اړین اړ دي.

په پای کې د پایلې په توګه باید ووایم د ډېرۍ هغه ښکیلاکي څواکونه چې غوارې په نړیوالو په ځانګړې توګه په غریبو او خوارو ولسونو خپل مذهب ،کلتور ،ژبه او نورې غوښتنې ومنې د نورو ډول ډول لارو اوتکتیکونو د ټاکلو تر څنګ یو هم همدا د انجوګانو جوړول دي خو ژوندي او ویښ ولسونه خپلې ټولې ګټې او ځانګړتیاوې ژوندي ساتي اود بهرنیانو د هر ډول تېري په وړاندې چمتو ولاړ وي.

# غریب ولس او بدابه ناروغي

شامحمود کډوال

د اسلام د دین لارښوونې او قوانین تلپاتې دي، دا ځکه د اسلام قوانین له قرانکریم څخه راوتلي او د قرانکریم جوړوونکی او رامنځته کوونکی ځواکمن او ستر ذات الله ج دی. د دې په وړاندې نن ورځ وضعي اود انسانانو په لاس جوړ شوي قوانین د ځینو اشخاصو له خوا وړاندې کېږي، د دغو قوانینو جوړونکي انسانان دي چې هرڅو کاله وروسته دې ته اړ کېږي چې پخپلو قوانینو بیا کتنه وکړي او ځینې خبرې په کې زیاتې او یا کمې کړي، خو د اسلام قوانین له دغه ستونزې نه ساتل شوي دي.

داسلام دین دخپل راتګ سره سم زنا، ګناه او جرم ګڼلی او مسلمانان یې ترې منع کړي، چې مسلمانان د دې ناورین له ستونزو څخه وساتل شي، د دې په وړاندې د انسان جوړ شوي قوانین چې په ډېرو اروپایي او نورو هېوادونو کې ترې ګټه پورته کېږي، زنا ته کوم جرم او ګناه نه وایي چې پدغه ګناه کې ورځ په ورځ پراختیا راځي او اوس ګڼ شمېر مسلمانو هېوادونو ته هم ورننوتې ده.

لکه څرنګه چې ما وړاندې یادونه وکړه چې د اسلامي قوانینو سرچینه قرانکریم او په پای کې خدای ج دی چې دخپلو بنده ګانو په ګټو او زیانونو ښه پوهېږي، هغه که خپل بنده ګان له زنا منع کړي، په دې کې یو ځانګړی حکمت پروت دی چې موږ دخپلې پوهې په کچه په هغې پوهېږو.

هغه هېوادونه چې زنا په کې دوډ لري له ګڼو ستونزو سره مخ دي، ورځ په ورځ له انساني ژوند څخه لرې کېږي، چې یوه غټه ستونزه یې له زنا څخه راپیداکېدونکې ناروغي ایډز ده، ټولو ته څرګنده ده چې ایډز یوه داسې ناروغي ده چې درملنه یې نشته، خو د دې انسان وژونکې ناروغۍ د ورکېدنې او وژنې لپاره بنسټیز ګامونه نه پورته کېږي، هغه چې اسلام وړاندې کړي، ترڅو داسلامي قوانینو د اغېزمنتیا مخه ونیول شي. د دې ناروغۍ په اړوند اوس ستونزه داده چې نه یوازې دا چې د نارروا اړیکو له لارې خپرېږي، بلکې


Continued # 16

*شاه محمود کډوال*

## زوروُر

انســانان خــو راپیــدا تــول بختــور دي
خــو دا ځینــې یــې نــږدې تــر خنــاور دي
پــه حســاب او پــه کتــاب یــې بــاور نشــي
پــه وژنــو ربړونــو بانــدې ســر دي
لــه امیــانو پټــوي ربښتیــا خبــرې
ډېــر رټلــي اوس ختلــي پــه ممبــر دي
چــې رالــوی وي د انســان پــه غلامــۍ کــې
د "بــادار" لــه غلامــۍ کلــه خبــر دي
دلتــه ښکلــي هلتــه ښکلــي خــدای ستایلي
د اســلام بچــي لــه هــر چــا منــور دي
خدای بـه تـول هغـوی رسوا لـه موږ جلا کړي
چــې پــه مــوږ کــې ننوتي پــه منتــر دي
ظالمــان بــه ظالمــان بولــو "کډوالــه"
خیــر کــه دوی اوس ښکــرور دي زورور دي.

*محمد طاهر ساپی*

## غزل

زړه کــې مــې چــې وګــرځې تاتــه غــزل ولــیکم
داســې مــات زړګي بانــدې ماتــه غــزل ولــیکم
ووایــه پــه دې دنیــا تانــه هم څوک ښکلي شته
خپلــه فیصلــه وکــړه چاتــه غــزل ولــیکم؟
زیــږ زمــا پــه شانتــه رنــګ، دی د پسرلي پســې
ژاړم پــه سلګیو د تــوت خــوا تــه غــزل ولــیکم
ته په زارو نه کېږې سترګو کې مې اوښکې وي
ورشمه زیــارت کــې پیــر بابــا تــه غــزل ولــیکم
غلي د سپوږمۍ رڼــا ستــا دمخ سپوږمۍ پســې
نیمــه شپــه ژړا کــې مــې ژړا تــه غــزل ولــیکم.

*زلمی زیرک*

## غزل

زما او د جانان په منځ کې ستوري شاهدان دي
څه خلکو یو لیدلي څه مو ګوري شاهدان دي

چې هره چهارشنبه به مو د زړه خوالــه کوله
د کلي د زیــارت د ونــو سیوري شاهدان دي
په هر لفظ کې مې نغښتي یې په هر لفظ کې دې ستایم
زمــا د لاس قلــم، د غــزل تــوري شــاهدان دي

جانــان کــه راتــه نــه وائې بــد مــه راتــه راګوره
وختونــه هغــه تېــر تراوســه پــورې شاهدان دي.

*محمد قاسم رجاء*

## غزل

پــه کــانو مــه ولــیٔ شــو سترې دا زمــا لېــونی
پربېږدئ چې ګرځي په دې چم او په صحرا لېوني

چې بــه یې د قــاف پر ښاپېریو یې نخرې کولې
اوس منجــاورو ســره ژونــد کــوي همــدا لېــونی
لــه ژونــد بېــزار خلکــو رټلــی مانــه مــخ اړوي
چــا لمسولی نــه پوهېــږم پــه ربښتیــا لېــونی
د نصیحــت کتــاب کــه تــول ورتــه راوسپړم زه
خــي رانــه تښتــي نــه خپلېږي پــه ژړا لېــونی

دا جنــون نــه د وخــت نــادودو پــر دې لــوبې کــړي
ځکــه یــې خلــك نــن رابــولي یــو "رجــاء" لېــونی.

حساره خصان لري او جبران　　تعزيراتو په ارتباط او دېت په

خساره لازم کېږي چې پدي　　محتوا وړاندې شو

دهغه اروا ته خپل سپين او ازاد شعر ډالي کوم

## ښکاري

بوه ښکاري چېري بو باز ساتلي

پښو کې بې گونگري وو اچولي ورته

باز په دي پوه نهٔ ، چې دغه څه دي

خو ، په نغمه به بې باز هم خوښېده

چې به فضا ته شو ور پورته پسي

بيا به راخوښي شو دځمکي لور ته

له غرهار او شرنگهارنه به بي

ټول الوتونکي وېرېدل بي کچه

دغه ښکاري د سردرو تړو کي

بو وخت د ښکار کولو نېت وکړ

لاس بې د باز په سرور تېر کړ هلته

او اشاره بې ورکړه والوزه نور

په اشاره لوړي فضا ته لاړو

بېرته راخوښي شو سبو باندې

ځيني هو ښباري او چالاکه مرغي

وېرېدي او پسي والوتلي

دا سردري او تړي پاتي شوي تري

دغه مېري او د ښتي پاتي شوي تري

نورو ملکوته بې پناه بووړه

د باز پنجو نه بې رسا بو وړه

درني درني سبسي شوي غلي هلته

سرونه بې گېتو لاندي ننه ايستل

خو نور وجود بې ټول بېرون ښکاريده

باز لوړه گېته باندي کښېناست ورته

پښه به بې په گېته باندي ووهله

شرنگ به گونگرو په سردرو کي وکړ

سبسي په نوري پسي غونجي شولي

ښکاري راورسېد ژوندي سبسي بې

بوه بوه به کړه راپورته پسي

دچا ارمان دچا کباب لپاره

حلالولي ، پخولي او خوړلي به بي

باز به هم مور شو د هم جنس په غوښو

څکه چې ښکار به بې کاوه په نښو

باران لاړه بې وفا شو حوصلې شته

## سترگي نه توروم

مریم ناصري

دغم کېسي دي دلته باره سترگي نه توروم
نور مي توبه شه له سنگاره سترگي نه توروم
نه مي اميل غاړي ته راوړه نه گلان او ربل ته
بنگړي مي هم نه دي پکاره سترگي نه توروم
په گودر غم دي ماتي شوي منگي ساندي وايي
لوخړي خېژي له چناره سترگي نه توروم
بو غم خوندي گرانه باره چې بي هېر کړمه زه
دلته غمونه دي بې شماره سترگي نه توروم
وخت د سنگار نه دي وطن زمونږ نه کار غواړي
ناصري کښېنه په قراره سترگي نه توروم

***

شاه محمود کهوال

گراني نوي ژوند او حال دي مبارک شه
سره لاسونه او سور شال دي مبارک شه
پېغلو دېره په نخرو بي جوړه کړي
لکه گل غوندي جمال دي مبارک شه
بو دي حسن قدرتي بل د رنگونو
په تندي کي ښکلي خال دي مبارک شه
سر تر پايه په سرو سپينو کي بي پټه
ښکلي داجاه وجلال دي مبارک شه
سره ډولي دي د کهوال په وينو رنگ ده
نوي بار سره وصال دي مبارک شه

## رښتيني خوب

ممتاز احمد عزيز

دمابنام په ترگمي کي
بو ځلانده شان ډېوه وه
په مزار د شهيدانو
په ورو ورو به بلېدله
بو فرياد مي شو تر غوږو
چې فرياد کي بي دا ويلي
سبا ورځ دلوي اختر ده
د بتيم گريوان دي څېري
کونډي رنډي سر ببري
هر خوا ته جوړ ماتم و
هاتفي غږ مي تر غوږ شو
باڅه وخت اوس دلمانځه دي

چې له خوبه راببدار شوم
د تعبير په تکل تلمه
محبوبي په نظر شو
ورته تېر مي دغه حال کړو
ويل بي واوره اي عزيزه
دغه خلک افغانان دي
ځور بدلي له ډېر وخته
کونډي رنډي بتيمان دي
د سختي پسي راحت دي
دا قانون د پاک الله دي
دډېوي تعبير همدا دي
دسبا لمر به ځلاند شي

# خوېندو ته مشوره!

هیلۍ

زموږ ټولنه په ټوليز ډول يوه وروسته پاتې ټولنه ده ، دا وروسته والی د ژوندانه په مختلفو ډګرونو کې جوت دی او موږ ورسره مخ يو . له بل لوري زموږ ټولنه يوه اسلامي ټولنه ده ، خو لاهم د اسلام د غوښتنې سره سم د ژوندانه چارې پرمخ نه ځي.

هغه څه چې زه غواړم خبرې پرې وکړم ، هغه زموږ په ټولنه کې يو ډېره وروسته پاتې طبقه يانې موږ ښځې او په موږ پورې اړونده موضوع ده.

که څه هم زموږ د ټولنې نارينه هم د پوره حقونو خاوندان شوي نه دي، خو دهغوی په پرتله ، ښځې ډېر د ظلم او جبر لاندې ژوند کوي، له ښځو سره ډول ډول نادودي روانې دي ، خو د بنستيز حل لپاره يې هېڅ څوک ګام نه پورته کوي او هر څوک يوازې دخپلو ځينو موخو لپاره کله نا کله د ښځو د حقونو خبرې کوي.

ټولې خويندې پدې پوهېږي چې زموږ په ټولنه کې ځينې داسې چارې شتون لري چې ددوی لپاره د خورا زيات زيان رسوونکي دي ، خو يا دوی څه نه وايي او يا يې څوک ويلو ته نه پرېږدي.

زموږ په ټولنه کې ډېر څه د نارينه وو په خوښه کېږي، هغه چې اسلام يې هم مخالفت کوي ، د بېلګې په توګه کله چې يو ځوان غواړي ښځه وکړي ، نو ډېر پدې پسې ګرځي چې يوه پاکه مسلمانه ، د حيا په جامه ښکلې پېغله د ځان لپاره وټاکي او پدې برخه کې ډېره هڅه کوي ترڅو يوه باايمانه پېغله د ژوند ملګرې کړي ، او حتی کله ناکله ځينې ځوانان هغه پېغلې چې زده کړه يې کړې وي ددې لپاره نه خوښوي چې له کوره وتلې ده ، نو بې حيا شوې به وي.

په همدې توګه کله چې يو ځوان او پېغله سره واده وکړي ، نو له واده نه وروسته دا چې ددوی ترمنځ يو تړون منځته راځي او هغه داسې چې دواړه يو دبل لپاره شي ، خو ځوان بيا هم د نورو لپاره وي ، ځوانان او نارينه د واده نه وروسته خپله ښځه پرېږدي او د نورو په ښځو پسې ځي،زنا کوي ، شراب څکي او نور ډول ډول ناوړه کړنې ترسره کوي.

خو ددوی په وړاندې ددوی ښځې ، زنا خو پرېږده ، که چېرته ډېر کوچنی ببځايه کړنه ترسره کړي ، نو نسمدلاسه وژل کېږي ، پداسې حال کې چې د اسلام له نظره دواړه نارينه او ښځه چې ګناه وکړي ، يو ډول ګناهګار دي او دواړه ښايي يو ډول سزا ووينې ، خو دا چې ښځې کمزورې دي نشي کولای خپل خاوند د

شاه محمود کډوال – ننګرهار

# ولسواکیز اوښتون او ستونځې

له ډېر وخت راهیسې زمونږ ګران هېواد د پردیو تر تېریو لاندې دی، کله دغه تېري جګړه ییز وي او کله سوله ییز- خو، چې هر ډول وي د پردیو دا ځانګړنه ده، چې د کورنیو هېواد ملي ارزښتونه باید له منځه یوسي. که د کورنیو هېواد وګړي د خپلواکۍ احساس ولري باید په بېلا بېلو لارو هغه ووژل شي.

په هېواد کې د طالبانو د واکمنۍ نه وروسته د ولسواک اوښتون سروالو،هېوادوالو ته ډېر څه په غوږونو کې واورول، په سترګو یې وروښودل؛ خو دوی ته یې ورنکړه. اوسمهال په هېواد کې هغه وګړي خوښ دي چې د دولت یا بهرنیانو ډالر ورسېږي او باید څرګنده کړم چې همدا وګړي د وینا او جرګې کسان دي چې د خپلو ګټو او ډالرو لپاره د دولت په نیمګړتیاو څه نه وایي او په دې توګه دولت غواړي دوی خوښ وساتي، ترڅودملت  ژبه ګونګه وي، خوعام وګړي ډېر په بدحالت کې ژوند تېروي او له ډېرو ستونځو سره مخ دي.

د ولسواک اوښتون د رامنځته کېدو سره پخواني ټوپکوال په زیاتې ځواکمنتیا او غښتلتیا سره بیا رامنځته شول او د دولت د تیټو څوکیو نه تر وزارتونو پورې یې ونیول. غواړم زیاته کړم چې ټوپکوال یواځې خپلې ګټې پېژني هغه ګټې چې د افغانانو په زیان دي؛ خو دا چې دوی ته د دوی ګټه د امریکایانو له خوا برابرېده؛ نو دوی د امریکایانو ساتونکي او منونکي شول. دلته دا خبره د ویلو بولم، چې ټوپکوال هغه وسله وال دي، چې افغان ملت ترې زړه چاودی دی؛ خو امریکایان ترې خوښ دي.. نو، چې امریکایان خوښ وي افغان ملت د چا لپاره دومره ارزښت نه لري.

ټوپکوالو د وخت د غوښتنو سره ځان جوړ کړ، عصري شول، هغه د غرونو او دښتو جامې یې وغورځولې او د ښار جامې (درویشي) یې په تن کړې، ږیرې یې وخریلې یا یې مونډۍ کړې. دا؛ ځکه چې پخوا له دې د مجاهدینو او طالبانو همدا جامه وه او خلکو له دې شیانو سره مینه نلرله. ټوپکوالو ته دغه کار ډېره ګټه ورسوله. وزارتونه او ریاستونه یې ترلاسه کړه او کومې مرستې چې د بهرنیانو له خوا له هېواد سره کېږي هغه د دوی جېبونو ته ځي، دوی یې بېرته بهرته استوي او هلته پرې مارکیټونه او هوټلونه جوړوي. دا بهیر لاهمداسې روان دی، خو دا ټوله د امریکایانو تګلاره ده. له یوې خوا مرسته کوي او هېوادوالو ته ورښایي چې مونږ ستاسو هېواد جوړاو ، خو له بلې خوا یې دغو مرستو ته په دولت کې ښاماران کېنولي او مرستې د هغوی جېبونو ته ځي.

په مرکز او ولایاتو کې دولتي ځمکې د ټوپکوالو له خوا نمره کېږي او په خلکو یې پلوري. هغه هم داسې خلک چې باید د دوی له ډلې څخه وي، پدغه ترڅ کې غواړم ووایم چې په هېواد کې د ځینو افرادو له خوا ډلپالنه، سیمه پالنه، ژبپالنه او خپلپالنه ښه په وده کې ده او هغه څوك چې د دې کار نه بهر دي؛ نو په زیان کې دي. په دې معنا، چې د دغو نعمتونو (ځمکو، دندو او ډالرو) څخه محروم دي.

همدارنګه لیدل کېږي چې په هېواد کې بیکاري ډېره ده. له بلې خوا دولت غواړي دغه بېکاران نور هم ډېر کړي. په دې معنا چې دولت اوس پېل کړی دی. د دولتي کارکوونکو شمېر کموي. دا، چې دوی د دې کار لپاره هر دلیل لري، لري به یې؛ خو زه دا وایم: دغه کارکوونکي چې نن له کاره ګوښه کېږي دا به څه کوي؟ په داسې حال کې، چې هر یو یې د کار دېرش کلنه او لا زیاته تجربه لري. دوی به په بازار کې کراچۍ چلوي او که کچالو به خرڅوي؟ دلته زه غواړم ووایم، چې که دولت غواړي ناپوهه کارکوونکي له څوکیو لرې کړي او یوه سمه اداره رامنځته کړي؛ نو ناشونې ده؛ ځکه، ناپوهه او غیر

# ولې ماشي کېږي؟

شاه محمود "کلهوال"

تېره شپه پخپله دېره کې ناست وم او د یوه ملګري له خوا ماته ډالۍ شوې خپرونه مې لوستله، په خپرونه کې چې ما تر لوست لاندې نیولې وه ځینو لیکوالو په خپرونو او لیکوالو لیکنې کړې وې، چې زما په اند ښایي افغانان یې ونه بولم ځکه هغوی افغان ته افغانستاني او افغانستان ته د (اریانا کبیر) کلیمې کاروي په داسې حال کې چې په هغه اساسي قانون کې چې ټولو افغانانو منلی راغلي دي چې د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کیږي، که چیرې دوی افغانان وي او د افغانستان اساسي قانون مني نو بیا ولې افغان ته افغانستاني وایي او د افغانستان د نوم په هکله چې څوک څه وایي او د هغې د بدلون غوښتنه کوي دا بیا د هغوی د نه افغانیت خبره په بنسټیزه توګه بې شکه کوي او څرګندیږي چې دوی د افغانستان اوسېدونکي افغانان نه دي بلکې د افغانانو دښمنان او پردي خلک دي او همدارنګه زموږ نومیالیو، ننګیالیو او توریالیو اتلانو ته په سپکه سترګه لیدل دا د دوی بله ځانګړنه ده.

د نړۍ په نورو هېوادونو کې ملي ګټې او ملي مقدسات هغه څه دي چې زیانوونکي یې په درنه سزا محکومیږي، خو له بده مرغه زموږ په هېواد کې داسې نه ده، د هېواد دښمنان ښه په زړورتیا سره د هیواد ملي ګټو او مقدساتو ته زیان رسوي خو څوک نشته چې له هغوی پوښتنه وکړي او یا یې دغه ناوړه کار څخه ودروي، په داسې حال کې چې موږ په پخپل هېواد کې یو دولت لرو او دا دولت د دې دعوه کوي چې د دوی ادار[ه] یوه ملي اداره ده خو د دې ادارې له زړه کابل څخه [د] هیواد دښمنان خپرونې کوي او قومي، ژبني او سیمه [ییز] توپیرونه پیداکوي.

زما په اند هېواد کې ملي یو والي ته ډېره اړتیا ده [او] ملي یووالی هلته ټینګېدلی شي چې د ملي ګټ[و] زیانمنوونکي خلک لا ایسار او قابو شي او هغه خپرون[ې] چې د افغانستان د اساسي قانون د غوښتنو سره س[م] خپرونې نه کوي او هېواد بیا د خپلو خپرونو له لارې [د] جګړې او بربادیو پر لور راکاږي، بندي کړی شي.

بله خبره دا چې د یادولو وړ یې بولم هغه داده چې ځینې خلک په دیموکراسۍ کې د بیان د ازادۍ نه ناوړ[ه] ګټه پورته کوي او له دې لارې خپل ځان هدف ته رسو[ل] غواړي، زما په اند د بیان ازادي باید دومره نه وي چې ملي ګټې او مقدسات پکې تر پښو لاندې شي او ... ګورو هغه ټولنې او هېوادونه چې هلته دیموکراسي او د بیان ازادي په پوره توګه پالل کیږي څوک نشي کولای د هیواد د ملي ګټو پر ضد خبرې او یا کار وکړي د ... ازادي باید د هیواد د هغو دښمنانو په وړاندې وک[ارول] شي چې په هیواد کې یې د جګړو اور ته لمن وهې او ... په زور ځان قدرت ته رسول غواړي، دوې هېو[اد] نالوستي خلک په یو او بل نوم غولوي او د ځان په ګ[ټه] تبري کار آخلي

**دیموکراسي طبیعي او میراثي ده، هېڅوک نه شي کولی چې یو ملت د متروکې په زور ازادي غوښتونکی او دیموکرات وي.**

**"مونتسکیو"**